د افغانستان اسلامي امارت

ستره محکمه

د دارالانشاء عمومي رياست

د تحريراتو آمريت

د تصاويبو مديريت

د (متحدالمآلونو) څانګه

نېټه: ۲۰/ ۱۲/ ۱۴۴۴ ه ق

مصادف: ۱۷/ ۴/ ۱۴۰۲ ه ش

عاجل ☐ عادی ☐ اطمينانيه ☐ ابلاغيه ☐ ساير ☐

د متحدالمآل ګڼه: ۵۸


د افغانستان اسلامي امارت د تميزونو ، دېوانونو، مرافعه او ابتدائيه محکمو قدرمنو منسوبينو ته!

السلام عليکم ورحمت الله وبرکاته

وبعد: د افغانستان اسلامي امارت او د ايران جمهوري دولت تر منځ د حقوقي او قضائي همکاريو مشترک مجلس مورخ١٤٠١/٦/١٣ ه ش مطابق د ايران هيواد، د افغانستان اسلامي امارت ته ځيني افغان بنديان تسليم کړي دي چي ياد بنديان په ايران هيواد کې په مختلفو جرمونو لکه: (سرقت، مواد مخدر، د انسان قاچاق، اختطاف، لواطت، الکولي مشروبات، قتل، جعلي اسناد، جعلي پيسې او ورود غير مجاز) نيول شوي او د ايران هيواد د محاکمو لخوا په مختلفو جزاګانو لکه: د يو کال څخه تر ٤٦ کلونو بند ځيني يې په ٤٣ يا ٧٤ دُرو او ځيني په اعدام محکوم شوي دي.

د زندانونو چارو د سمون اداري په درو (هرات، فراه او نيمروز) ولايتونو کې دغه زندانيان د افغانستان اسلامي امارت محاکمو ته سپارلي دي، دا چي د يادو زندانيانو د جرم محل د ايران هيواد دی او د ايران هيواد د محاکمو لخوا په مختلفو جزاګانو محکوم شوي دي نو په دې اساس، موضوع د ستري محکمې د محترم مقام لخوا د افغانستان اسلامي امارت د مشرتابه محترم عالي مقام ته وړاندي شوي وه او د عالي مقام څخه د هدايت غوښتنه شوي وه چي د يادو زندانيانو په باره کې څرنګه ترتيب وشي؟

د پورته ذکر شوي زندانيانو په باره کې د افغانستان اسلامي امارت د مشرتابه محترم عالي مقام فرمان نمبر(٤٥)مورخ١٤٤٤/١٢/٨ هق مصادف ١٤٠٢/٤/٥هش رارسيدلی چي متن يې داسي دی:

((د زندانونو چارو د سمون اداري ته!

السلام عليکم ورحمت الله وبرکاته!

صحت او عافيت مو الله جل جلاله په نصيب کړه!

وبعد: د ايران هيواد څخه را انتقال شوي بنديان د سرحدي ولايتونو د محابسو څخه د خپلو ولايتونو محابسو ته انتقال کړئ، په اعدام او قصاص محکوم شوي بنديان څه موده وساتئ او په حبس محکوم شوي بنديان اړونده محاکمو ته وړاندي کړئ.))

بناءً د افغانستان اسلامي امارت د مشرتابه محترم عالي مقام پورته تحرير شوی فرمان د ستري محکمې د محترم مقام د هدايت په اساس د دې متحدالمآل په توسط د افغانستان اسلامي امارت د ستري محکمې مربوط رياستونو، تميزونو، ديوانونو، مرافعه او ابتدائيه محکمو ته واستول شو تر څو مربوطه محاکم د يادو زندانيانو دوسيې د محکومينو د انتقال کمېټې لخوا تر استولو وروسته واخلي او د ستري محکمې د دارالانشاء عمومي رياست د متحدالمآل نمبر (٢) مورخ ١٤٤٤/١/٢هق مطابق دي حق د اوليت ورکړي.

په درنښت

مفتي عبدالرشيد "سعيد"

د ستري محکمې

د دارالانشاء عمومي رئيس

۲۰ ۱۲ ۱۴۴۴ ه ق


Address: Public health Square 9th District, Kabul-Af

Phone: 0202301138

Post box: 1989

Website: www.supremecourt.gov.af

پته: د صحت عامې څلور لارې، نهمه ناحيه، کابل- افغانستان

تيلفون : ۰۲۰۲۳۰۱۱۳۸

پست بکس : ۱۹۸۹

secretariat@supremecourt.gov.af

د افغانستان اسلامي امارت

**د مشرتابه مقام دفتر**

عاجل: ☐ عادي: ☐
ابلاغیه: ☐ محرم: ☐

ګڼه: ۷۲۵
نېټه: ۱۴۴۴/۱۲/۲هـ ق

فرمان ۴۵
۱۴۴۴/۱۲/۸
۱۴۰۲/۴/۵
د افغانستان اسلامي امارت
د چارو اداري لوی ریاست
د دفتر ریاست

بسم الله الرحمن الرحیم

**د زندانونو چارو د سمون اداري ته!**

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته!

صحت او عافیت مو الله جل جلاله په نصیب کړه!

وبعد: د ایران هیواد څخه را انتقال شوي بندیان د سرحدي ولایتونو د محابسو څخه د خپلو ولایتونو محابسو ته انتقال کړئ، په اعدام او قصاص محکوم شوي بندیان څه موده وساتئ او په حبس محکوم شوي بندیان اړوندو محاکمو ته ورلندي کړئ!

**والسلام**

**امیرالمؤمنین شیخ القرآن والحدیث**

**مولوي هبة الله اخندزاده**

ذوالحجة الحرام
۱۴۴۴ هق

ضمیمه:

- د چارو اداري لوی ریاست (۹۰۷/۳۵۱) ګڼه مکتوب
- د ستري محکمې د دارالانشاء عمومي ریاست (۷۰۶/۱۳۵۹) ګڼه مکتوب